**مطبوعاتي اعلامیه**

**په بریتانیا کې د مسلمانانو ځورول په چټکۍ سره په یو دود بدلیږي**



**(ژباړه)**

تېره میاشت، د سوریې پر یو کډوال هلک او د هغه پر خور د ښوونځي په لوبغالي کې برید وشو. د دې دواړو پېښو انځورونه ثبت او په ټولنیزو رسینو کې خپاره شول، چې بریتانوي دا کار د خپل قرباني په بدل کې تر سره کوي. یوه میاشت وروسته اوس رسنۍ د دې پېښې اصلي جریان خپور کړ، پولیسو د دغې ځورونې پړه په یو ۱٦ کن هلک اچوي.

پرته له دې چې ټولنیزو رسینو ته پاملرنه وکړو، یو ځل باید وپوښتل شي، چې ایا د دې پېښې د اصلي جریان راپور د رسنیو له لوري باید ورکړل شوی وی که ښوونځی یې په اړه لاس په کار شوی وی یا که پولیس په هر اړخیزه توګه په دغه پیښه کې داخل وی؟

په بریتانیا کې بې شمېره ځوان او سپین‌ږیری مسلمانان کولی شي د هغه کینې په اړه چې په مستقیمه توګه ورسره مخ شوي، دوی ته ووایي. د ښوونځیو د مسلمانو زده کوونکو والدین کولی شي چې خپلو بچیانو ته د هغه څه په اړه ووایي، کله چې دوی په دوامداره توګه د نژادي توپیر او تعصوب له امله ځورول کېدل، په ځانګړې توګه د پوستکي د رنګ له امله. په دې وروستیو کې نژادي عناصر، له مسلمانو او له هغه اسلامي کړنلارې سره پر دښمنۍ بدل شوي، چې دوی یې په خپل ژوند کې کاروي.

دا ډول کینه د یوې سېکولر ټولنې هغه ناپایه تولید دی، چې په عمومي توګه یې پیداوار یوازې  د خلکو تر منځ ضمانت دی. د بریتانیا حکومت او د هغوی خبیثې او بې مغزه رسنۍ، چې د حکومت د لاس اله ده، د مسلمانانو او اسلام پر وړاندې ورځ تر بلې بدګوماني رامنځته کوي. د دغه ښوونځي د پلټنو مشر د ټولو تر مخ، د مسلمانانو او اسلامي ارزښتونو لپاره د زغم غوښتنه کړې وه.

د مسلمانانو د ځورولو په اړوند د رسینو دا تازه پاملرنه، په داسې حال کې چې د بې شمېره ورځینو قربانیو پر مهال هېڅ نه تر سترګو کیږي، له حکومت څخه غواړي چې اسلامي وېره (Islamophobia) په رسمي توګه تعریف کړي، چې دوی ورسره په اغیزمنه توګه معامله وکړي.

په بریتانیا کې اسلامي ټولنه باید د حکومت پر دې نوي نوښت اندېښمنه شي، چې د اسلامي وېرې بحثونه یې په رسینو کې راپورته کړي. دا کلیمه دلته د اسلامي ټولنې د لا زیات بې دینه کولو لپاره د یوې وسیلې په بڼه کارول کیږي. اوسنی بنسټیز وضعیت دا په ګوته کوي، چې مسلمانانو لا تر اوسه سم نه دي سیکولر شوي، له همدې امله پر دوی بریدونه تر سره کوي. په حقیقت کې د مسلمانانو او اسلام پر ضد د سیاسونو او رسینو خبرې مبدایي تړاو لري او په سیاسي توګه پر مخ بېول کېږي.

پر یو سیکولر هېواد تکیه کول، چې اسلامي ویره تعریف او مخنیوی یې وکړي، شاید لنډمهالې لاس ته را وړنې ولري، مګر په پایله کې به د سیکولریزم موضوع ته ګټور تمام شي. کېدای شي چې تمرکز خپله پر برېدونو وشي، نه د بریدګرو پر هغو افکارو، چې له ځان سره یې لېږدوي. دوی به پر نښانونو پسې ګرځي، نه په لامل پسې، حتی له لامل څخه به بل لورته بشپړه پاملرنه وګرځوي.

نن ورځ سیکولران، د اسلام پر وړاندې د خپل فکر په دفاع کې عاجز او نهیلي شوي، له همدې امله هڅه کوي چې د هغه بحثونو مخنیوی وکړي چې د دوی په سیکولریزم پورې تړاو لري. کله چې مسلمانان په هغه وخت چې بریدونه رامنځته کیږي، د اسلامي وېرې د مخنیوي لپاره هلې ځلې کوي، سیکولران هڅه کوي، چې په هغه څه د بحث کولو څخه مخنیوی وکړي، چې د بریدونو تر شا دي او په ډېرې اسانۍ سره کولی شي چې د اسلام او سیکولریزم اړوند، بحثونو مخنوی وکړي. د بحثونو د مخنیوي موخه د مسلمانانو لپاره باید د وروستي پیغمبر صلی الله علیه وسلم د دین له امله نه وي.

د اسلامي وېرې غوښتنه د اصلي موضوع څخه پاملرنه بل لور ته ګرځوي او یوازې یو شمېر نښانو ته پاملرنه کیږي. تود بحث، عقیده او سیکولري ارزښتونه نه دي. کله چې موږ بحث کوو، پر ځای د دې چې وګورو د غږ پوته کول لپاره مناسب وخت دی که نه، یوازې وایو چې موږ په یوه محرم سیکولر ټولنه کې ژوند کوو.

د اسلامي وېرې پر ځای د حکومت او رسنیزو بنسټونو له لوري د مسلمانانو غېرې عادلانه ساتنه باید تر پوښتنې لاندې راوړل شي، چې دا څه دي، په هغه وخت کې دا بحث اغېزمن کېدی شي.

د اسلام او مسلمانانو پر وړاندې درواغ باید درواغ  ثابت کړل شي، په هغه وخت کې له دې ریاکارو درواغجنو خوځښتونو څخه پرده پوته کېدی شي. د اسلامي عقایدو او ارزښتونو پر وړاندې د درواغجنو تورونه او بدې رویې لامل، د یو بدیل فکر نه شتون دی، چې دوی یې په اړه فکر وکړي او سمې لارې ته راوګرځي. دا د قرانکریم کړنلاره ده، چې د قریشو جنایات یې د دوی د جنایتکار ذهنیت سره سم یادوو.

دا سیکولر نظام باید خپله د مسلمانانو بې رحمه ځورونې ته ځواب ووایي، چې نن ورځ دوی له دې عاجز شوي چې په ټولنه کې برابري را منځته کړي، دا یو څرګند حقیقت دی، چې مختلف عقاید او ارزښتونه ورته د زغم وړ نه دي. مخکې له دې چې مسلمانان نور هم د سیکولریزم لورته بوځي، موږ باید د اسلامي دعوت ته، چې موخه یې د سیکولر عقایدو تر پوښتنې لاندې راوستل دي، وده ورکړو او له ذهني چلنجونو څخه ونه وېرېږو.


**یحیی نسبت**

**په بریتانیا کې د حزب التحریر مطبوعاتي استازی**


**۱۴۴۰هـ،ق، د ربع الاول ۲۲مه/ ۲۰۱۸م، د نومبر۳۰مه، جمعه**

**ګڼه: ۱۴۴۰/۰۴**